السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ؛ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ؛ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ، وَلَا تَحَسَّسُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا».
«له ګمان څخه ځان وساتئ؛ ځکه چې ګمان تر ټولو دروغجنه وینا ده، او د خلکو عورتونو پسې مه ګرځئ، او جاسوسي مه کوئ، او له یوبل سره کینه مه کوئ، او یو بل ته شاه مه اړوئ، او یو پر بل مه غصه کیږئ، او ټول د الله جل جلاله بندګان شئ ورونه ورونه».

[صحيح] - [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځینو هغو کارونو څخه منع فرمایلي دي چې د مسلمانانو تر منځه تفرقه او دښمني رامنځته کوي، له هغو څخه: (الظن) له دلیل پرته په زړه کې تور پورې کول، او دا یې بیان کړ چې ګمان تر ټولو دروغجنه وینا ده. "تحسس" د سترګو یا غوږونو په واسطه د خلکو د پټو عیبونو پلټنه کول. او (جاسوسي): چې د پټو معاملو په لټه کې وي، او اکثرا دا د بد په اړه ویل کیږي. او له حسد څخه: چې هغه د نورو لپاره د نعمت بد ګڼل دي. او له یو بل څخه مخ اړول، نو نه سلام اچوي او نه د خپل مسلمان ورور لیدنې ته ورځي، او له یو بل څخه کرکه کول، بد ګڼل او نفرت کول، لکه د نورو ازارول، او هغه چې تندی یې تروش نیولی وي او هغه چې په بد انداز سره خلکو سره مخ کیږي. بیا یې یوه جامعه وینا وکړه چې د مسلمانانو خپلمنځي وضعیت پرې ښه کیږي: ( او د الله جل جلاله بندګان شئ ورونه ورونه) نو دیني ورورګلوي هغه اړیکه ده چې د خلکو تر منځه پرې اړیکې پیاوړې کیږي، او تر منځه یې مینه او محبت زیاتیږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5332

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee